EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

MINISTERO DELL'INTERNO

ایټالیا

# په استقبال کې ستاسو حقونه او مکلفیتونه



دا معلومات ستاسو لپاره دي که:

- تاسو د 18 کلونو څخه کم عمر لرئ
- ته د خپل والدینو څخه پرته رارسېدلی یې، یا یوازې یا د نورو کورنیو غړو سره
- تا چارواکو ته ویلي چې ته په ایټالیا کې د پناه (چې د نړیوال خوندیتوب په نوم هم یادیږي) لپاره غوښتنه کول غواړې.

ته په دې هېواد کې خوندي یې.

PASHTO

په اروپا کې، هر څوک چې له 18 کلونو څخه کم عمری لري یو ماشوم ګڼل کیږي او د **ځانګړي ملاتړ** ترلاسه کولو حق لري.

## څوک به ستا سره مرسته وکړي؟



ځکه چې ته دلته بې له والدینو یې، نو یو بل بالغ/لوی کس چې **سرپرست** ورته ویل کیږي به تا سره په اړتیاوو کې مرسته وکړي. دا کس د چارواکو څخه خپلواک دی.

که چېرې ته تر اوسه له خپل سرپرست سره ملاقات نه وی کړی، نو ژر تر ژره به ورسره ووینې.

تر هغه وخته پورې، چارواکې به ستا د ملاتړ او استازیتوب لپاره یو بل بالغ/لوی کس وټاکي.

## د سرپرست رول څه دی؟

ستا سرپرست تا ته د خپل پاتې کېدو په اړه هر هغه څه تشریح کوي چې ته ورته د پوهېدو لپاره اړتیا لرې او ستا سره مرسته کوي ترڅو خپلو پوښتنو ته ځوابونه ومومې. نورکارکوونکي به هم تا سره په دې پوښتنو کې مرسته وکړي.

ستا سرپرست چارواکو ته هغه څه وایي چې ته ورته اړتیا لرې، تا ته مشوره چمتو کوي او تا سره د مهمو پریکړو په ترسره کولو کې مرسته کوي.

ته تل خپلې اړتیاوې او احساسات څرګندولی شې او خپل سرپرست ته خپله رایه ووایې.

که چېرې ته د خپل سرپرست سره ستونزه لرې، نو کارکوونکوو ته ووایې.

ته تل د کارکوونکوو څخه د مرستې او ملاتړ غوښتنه کولی شې. مه وېرېږې، ستونزې سره یوځای حل کېدای شي!

یو **ژباړونکی** سو سره په هغه ژبه باندې خبرو اترو کې مرسته کولی شي چې تاسو پرې پوهېږئ. د دوی رول کټ مټ هغه څه ژباړل دي چې تاسو او نور یې وایئ.

## ته څه کولی شې که ته له خپلې کورنۍ سره اړیکه نیول وغواړې؟



که تا ته معلومه نه وي چې ستا کورنۍ چېرته ده، یا ته له دوی سره اړیکه له لاسه ورکړې وي، کارکوونکي به ستا سره ستا د کورنۍ په لټون کې مرسته وکړي.

که ته په اروپا کې کورنۍ لرې نو کارکوونکو ته هر هغه څه ووایې چې تا ته د خپلې کورنۍ په اړه معلومه وي.

## پام کوه، ځینې خلک کېدای شي تا په خطر کې واچوي



ته ممکن د دې هېواد څخه د تېښتې په اړه فکر وکړې یا ځینې خلک به هڅه وکړي چې تا قانع کړي چې وتېښتې.
دا ستا لپاره خطرناک کېدی شي او ستا د پناه ځای غوښتنلیک لپاره کېدی شي منفي پایلې ولري. له خپل سرپرست او کارکوونکو سره خبرې وکړه، ته دوی ته حالت تشریح کولی شې او دوی تا ته مشوره درکولی شي.



## ته به څه ترلاسه کړې؟

ته به بېلابېل ډوله ملاتړ او خدمتونه ترلاسه کړې پداسې حال کې چې ته د چارواکو لخوا د خپل پناه ځای غوښتنلیک د څېړلو په انتظار کې یاست. دې ته **استقبال** ویل کېږي.

کارکوونکي به له تا څخه د دې تایید وغواړي چې تا په دې بروشر/رساله کې معلومات ترلاسه کړي. که چېرې ته د دې بروشر/رسالې په برخو باندې نه پوهېږې یا که ته څه پوښتنې لرې، له خپل سرپرست او کارکوونکو څخه پوښتنه وکړه.

ته به په راتلونکو ورځو کې اضافي معلومات ترلاسه کړې.

ته به لاندي توکي ترلاسه کړې:



• د خوب کولو ځای



• د شخصي حفظ الصحې توکي



• خواړه



• د ورځنې لګښتونو لپاره پیسې



• جامې



د یو ماشوم په توګه تاسو د زده کړې او د زده کولو حق لرئ. کارکوونکي به تا ته د زده کړې او تفریحي فعالیتونو په اړه ووايي ترڅو تا سره د زده کولو، پرمختګ او نوي ملګري په جوړولو کې مرسته وکړي.





ستاسو د عمر او وضعیت پورې اړه لري، تاسو ته ممکن د کار کولو اجازه درکړل شي، که تاسو داسې کول وغواړئ. ستا سرپرست او کارکوونکي به تا ته نور معلومات درکړي.

## د روغتیا پاملرنې حق

**چارواکي به دا خبره ډاډمنه کړي چې تاسو هغه روغتیايي پاملرنه ترلاسه کوئ چې تاسو ورته اړتیا لرئ.**

کارکوونکي او سرپرست به تا ته ووايي چې که چېرې ته کېدی شي د نرس (نرسې) یا ډاکټر (ډاکټرې) سره طبي معایناتو ته حاضر شې.





## کارکوونکو او خپل سرپرست ته خبر ورکړې که چېرې:

- تاسو ناروغه یاست، ټپي یاست یا عاجل طبي مرستې ته اړتیا لرئ
- تاسو معیوبیت لرئ
- تاسو سره ناوړه چلند شوی وي
- تاسو د یو چا څخه د ویرې احساس کاوه یا احساس کوئ
- تاسو امیندواره یاست یا تاسو کېدی شي امیندواره یاست
- ته د کوم بل لامل/وجې لپاره ملاتړ ته اړتیا لرې.

که تاسو اکثر د خفه، غوسې، ویرې، اندېښنې احساس کوئ یا تاسو ویده کېدل سخت مومئ، نو تاسو د **ارواپوه/سایکالوجست** سره خبرې کولی شئ.

ته په نرس (نرسې)، ډاکټر (ډاکټرې)، ارواپوه/سایکالوجست، کارکوونکو او خپل سرپرست باندې باور کولی شې. هېڅ څه چې ته یې وایې به ستا له توافق پرته ستا له سرپرست پرته له هیچا سره شریک نشي. یوازینۍ استثنا دا ده چې که ستاسو یا د یو بل چا ژوند په خطر کې وي.

## تە بە چېرتە پاتې کېږې؟



هغه ځای چېرته به چې ته پاتې کیږې پداسې حال کې چې چارواکي ستا د پناه ځای غوښتنلیک څېړي ستا عمر او اړتیاو پورې اړه لري.

ستا سرپرست او کارکوونکي به تا ته خبر درکړي چې ته به چېرته پاتې شې. **ته به یوازې په هغه ځای کې ملاتړ او خدمتونه ترلاسه کړې چې د چارواکو لخوا پرېکړه شوې وي.**



**ډېر په ندرت سره، ماشومان ممکن په داسې مرکز کې واچول شي چېرې چې دوی په خپله خوښه نشي تللی او راتللی. که چېرې ته په دې حالت کې یې، ستا سرپرست، قانوني سلاګر (سلاګره) او کارکوونکي بهستا سره مرسته وکړي.**

قانوني سلاګر (سلاګره) یو کس دی څوک چې په دې هېواد کې په قوانینو باندې پوهېږي، ستا حالت مطالعه کولی شي او ستا سره مرسته کولی شي.

**مهمه نه ده چې ته چېرته پاتې کیږې، ته د خوندي اوسیدو حق لرې.**

**هېڅوک اجازه نلري چې:**




تاسو ته ګواښ وکړي

ستاسو سپکاوی وکړي

تاسو ته زیان ورسوي

مهمه نه ده چې دوی څوک دي، یو نا اشنا کس یا یو څوک چې تاسو یې پېژنئ.
که ته د کارکوونکو یا د خپل سرپرست سره څه ستونزې لرې، ته خبرې کولای شې.

## ستا د استقبال مکلفیتونه څه دي؟



دا مهمه ده چې ته رښتیا ووایې او دا چې له چارواکو سره همکاري وکړې، حتی که چېرې ځینې وختونه ستا د کیسې ویل ډارونکې او ستونزمن احساس کویږي.

ستا سرپرست او کارکوونکي ستا سره مرسته کولی شي که چېرې دوی ستا د حالت په اړه معلومه وي.

لاندې ځینې هغه مکلفیتونه دي چې تاسو باید ورته غاړه کیږدئ.

- چېرته چې ته پاتې کیږې د هغه ځای قواعد تعقیب وکړه.
- له هغه ځای څخه مه تېښته چېرته چې چارواکو تا ته د پاتې کېدو لپاره ویلي دي.
- د دې هېواد قوانینو ته درناوی وکړې کوم چې کارکوونکي او ستا سرپرست به تا ته پرې پوهه کړي.

## که چېرې ته د خپل مکلفیتونه ادا ونکړې نو څه به کیږي؟

چارواکي به ستا حالت وارزوي او ته او ستا سرپرست ته به خبر درکړي که چېرې دوی د ځینې اقداماتو کولو پرېکړه وکړي.

که چېرې داسې وشي، ته په ښکاره ډول له خپل سرپرست یا کارکوونکو سره خبرې کولی شې او خپل حالت تشریح کړې.

چارواکي کېدی شي پرېکړه وکړي چې:

- **ته کېدی شي لږ ملاتړ ترلاسه کړې،** د مثال په توګه که چېرې ته له چارواکو سره همکاري نه کوې
- **ته کېدی شي ځینې ملاتړ له لاسه ورکړې چې ته یې ترلاسه کوې** که چېرې ته په زوره چلند وکړې.



د هغه ملاتړ ډول چې ته به یې لاهم ترلاسه کوې به ستا په شخصي حالت او اړتیاو پورې اړه لري.

**ته اوس په ایټالیا کې یې، کوم چې د +EU هېواد دی.**
**د +EU هېوادونه دا دي:**

د اروپايي اتحاديې (European Union, EU) 27 غړي هېوادونه عبارت دي له: اتريش، بلجيم، بلغاريه، کروئشيا، قبرس، چيک جمهوريت، ډنمارک، استونيا، فنلينډ، فرانسه، جرمني، يونان، هنګري، ايټاليه، لاتويا، ليتوانيا، لوکزمبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پورتګال، د ايرلينډ جمهوريت، رومانيه، سلواکيا، سلونيا، اسپانيه، سويډن او

4 نور هېوادونه: آيسلينډ، ليچتنستين، ناروې او سويټزرلنډ.


## د پناه ځای لپاره غوښتنه کولو او +EU هېوادونو ته د سفر کولو قواعد



- ته بايد په ايټاليا کې پاتې شي او د +EU نورو هېوادونو څخه يو ته ونه تښتې.
- که چېرې ته د دې هېوادونو څخه په يو کې د کورنۍ غړي لرې، چارواکي به تا ته د کورنۍ په بيا يوځای کېدو باندې ستا د حقونو په اړه خبر درکړي. بس مه تښته.
- که ته وتښتې، نو منفي پايلې به شتون ولري، دا به وروسته تشريح شي. د مثال په توګه، ته به په بل هېواد کې د استقبال لړ ملاتړ ترلاسه کړې.
- په ياد ولره، ته بايد خپل د پناه غوښتنې غوښتنليک په هغه +EU هېواد کې راجستر کړې چېرته چې ته لومړی راغلی وې، ترهغه چې چارواکو تا ته بل ډول خبر درکړی وي.
- يوازې يو له دې هېوادونو څخه ستا د پناه غوښتنې غوښتنليک د څېړلو ذمه وار دی. په ايټاليا کې چارواکي به تا ته ووايي چې کوم هېواد د دې ذمه وار دی.

تاسو به د دې کړنلارو په اړه په جلا بروشرونو/رسالو کې زده کړئ.

## که ته د EU+ هېوادونو څخه یو ته وتښتې نو څه به کېږي؟




**په ایټالیا] کې:**

- ستا د پناه غوښتنې کړنلاره کېدی شي ودرول شي.

**په بل EU+ هېواد کې:**

- چارواکي کېدی شي پرېکړه وکړي چې ته بېرته هغه EU+ هېواد ته ولېږي چې ته ترې وتلي وې.

له هغه شیبې چې چارواکي تا ته ستا د بېرته لېږلو پرېکړې په اړه خبر درکړي، ته به ځینې حقونو ته لاسرسی ونلرې، د مثال په توګه:

- ته به د ملاتړ ځینې ډولونه ترلاسه نه کړې او
- ته به د کار کولو اجازه ونلرې.

د هغه ملاتړ ډول چې ته به یې لاهم ترلاسه کوې به ستا په شخصي حالت او اړتیاو پورې اړه لري.

ته له خپل سرپرست سره خبرې کولی شې او هره پوښتنه کولی شې.



د خپل سرپرست سره یوځای ته د قانوني سلاکر (سلاکرې) څخه د مرستې غوښتنه کولی شې.

کارکوونکي به تا ته د هغو غیر دولتي سازمانونو په اړه هم خبر درکړي چې کېدی شي تا ته معلومات او مرسته وړاندې کړي.




ته هر وخت د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري ( United Nations Refugee Agency, UNHCR) سره اړیکه نیولی شې. UNHCR د هغو خلکو ساتنه کوي څوک چې د خپل هېواد پرېښودو ته مجبور شوي وو.

## یادداښتونه

MINISTERO DELL'INTERNO

euaa
EUROPEAN UNION
AGENCY FOR ASYLUM

دا بروشر یوازې د معلوماتو موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د اروپایي ټولنې د پناه غوښتنې ادارې (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې بروشر بیا تولید او بدلون یوازې د EU غړو هېوادونو لپاره د EUAA لخوا اجازه لري. EUAA د EU غړو هېوادونو یا کوم بل مسؤل دریم اړخ لخوا په دې بروشر کې د شامل شوي معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باورۍ توب لپاره هېڅ ذمه واری یا مسؤلیت نه مني. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب، هېڅ شخص په دې بروشر کې د موندل شوي معلوماتو کارولو ذمه واری نه لري.

European Union Agency for Asylum, 2025 ©